بازمحمد ( ساپي) ۲۰۱۰/۳/۱۹

# رېچرد هالبروک او ولسمشر حامد کرزي

یو شاعر وائي
جنګ جګړه د ستونزو د حل لار نه ده
خوشي مــو زاړه او ځلمیان مـه وژني
پـرېږدي چې د سولې لمر را وخېژي
دا زمـونږ د زړونـو ارمان مــه وژني

د ۲۰۱۰ کال د مارچ په پنځمه نېټه د امرېکا په هارورډ پوهنتون کي د افغانستان او پاکستان د پاره د امرېکا ځانګړي استازي رېچرد هالبروک په یوه کنفرانس کي ګډو اورېدونکو ته په وینا کي داسي ووېل (امرېکا د افغانستان د سولې اوملي پخلاینې په پروسه کي شامله نه ده ،طالبان د پښتني ټولني زېږنده ده او د پښتنو په هره کورنی کي یوکس شته چي د طالبانو سره اړیکي لري) او داې هم وېلي چي( پښتانه او طالبان یو بل سره داسي کوشېرشوي چي جداېي نه لري) د امرېکا د ځانګړي استازي هالبروک د وینا مانا دا ده چي ټول پښتانه نړېوال تروریستان او د نېشه یي توکو کاروبارېان دي ، تروریستان او د نېشه توکو کاروبارېان دواړه د امېرکا دشمنان دې باېد له منځه لاړ شي ، د هالبرګ څرګندونو ته ورته د ټولټاکنو د مخه ولسمشرې ته کاندېد د شمالي ټلوالي پوري ترلي عبدالله عبدالله نه یو بهرني ژورنالېست پوښتنه وکړه که په ټولټاکنو کي برېالي شي د نېشه يي توکو د راکړې ورکړې په هکله به څه تصمیم ونېسي هغه ورته په جواب کي ووېل (خپل ورور به پرې نه ږدم چي قاچاق وکړي.)

هالبروک د افغانستان او پاکستان د پاره د امرېکا خاص استازي دې دده خبره د امرېکا د دولت خبره ده او د امرېکا دولت نن د کرزي په حکومت عام و تام برلاسي لر ي او خپلي ټولي پروژې د ولسمشر په یوټکي کي تر سره کوي په دې خاطر واېلاې شو چي د هالبروک څرګندوني د امرېکا او دکرزي دحکومت ګډه پالېسي ده داچي با احساسه افغاناناو پښتنو لېکوالانو د خپل برداشت مطابق خپل پښتني مسولېت په لرلو سره د رېچرد هالبروک څرګند ونو په وړاندي اندېښنه ښوولي اوعکسلعمل یې ښکاره کړي او غندلي دې زه یې هم د لاري ملګرې یم ، هالبروک باېد پوه شي چي پښتانه نه تروریستان دې نه د نېشه یي توکو کاروبارېان دې او نه ټول پښتانه طالبان دې اونه سکتارېتان ،ستاسو ګوندي له یاده وتلي وي چي اخوانېزم او افراطېت ستاسو زېږنده ده چي د روسانو د راپرځولو په وړاندې موېپاوړي کړه ، القاعده او طالبېزم مو د خپلو ګټو په خاطرد سعودي عربستان او پاکستان سره په تفاهم کي په پاکستان کي رامنځ ته کړه او په دواړو حرکتونو مود افغانستان طبعي جوړښت ته زېان ورساوه ، اسامه هم تاسو راوست او فکر کوم چي اوس به هم له تاسو سره وې په دې کي د پښتنو ګناه نه شته په پښتنو خپل وطن ګران دې او ساتنه یې کوي .

افسوس دا دې چي دا کار د پښتون مشر په وجود کي تر سره کېږې او تارېخي شرم د پښتون په تندي داغ پاتېکېږي ددې په ځاې چي پښتون مشر یې مخه ونېسي یا ژاړي او یا واېي چي زما وس نه رسېږي ، بس خبره په دې ختمه شي ددې په ځاې چي نور پښتانه د یو پښتون مشر په واکمني کي بې عېزته او سپك نه شي، څوك یې د تروریست او قاچاقبرانو په نوم یاد نه کړي، د شپي له خوا په کورونو کي ماشومان او ځوانان حلال نه شي، د هالبروک د خبرو بېخ را وسپړل شي او لاره دحل ورته پیدا شي ، د هغه وخت نه چي کرزي واکمن شوې اود امرېکا په مشرې نړېوالو ځواکونه افغانستان ته د طالب او القاعدې د مشرانو د نېولو په خاطر برغل راوړې قدم په قدم خپله ستراتېژي پلي کوې ، نه یې د القاعدې مشر اسامه بن لادن ونېو اونه یې د طالبانو مشر ملا محمد عمر ته څه ووېل او یواځې د پښتنو په سېمه کي اور بل ساتلي او پېنون قام د طالب او القاعدې په نوم له تېغه تېروي غواړې چي د پښتنو غرور او مقاومت راڅملوي ، په هدېرو ، ودونو د خوښېوو په محفلونو او ان د جنازو د لمانځه په وخت کي په هوائي غونډارو سرفه ونه کړه ، د امرېکا ددې جنایتونو یوه وړه بېلګه د کنړ ولایت د نرنګ ولسوالي د غازي خان په غونډې کي د محمد طالب د یوې کورنی لس تنکي ځوانان چي د سېمه یزوښونځېو د مختلیفو ټولګېو زده کونکي و او عمرونه د۱۱ کلنو نه تر ۱۷ کلونو پوري و دشپي په دوه بجو په خپلو کورونو کي له خوبه را پاڅول اویه شهادت ورسول ، امرېکا او ملګرو یې د کرزي په وجود کي د موقتي ادارې نه رانیولي ددوهم ځل د ټولټاکونو پورې پښتانه د طالب او القایدې په نوم له بېنه یوړل ، خو اوس چي کرزي ددوهم ځل له پاره ولسمشر شو دادې د امرېکا د ستراتېژې دوهم پړاو د پلي کېدوپه درشل کي ده ، د هلمند ولاېت د مانجي په وسلوالي کي وسلوال عملیات او د رېچرد هالبروک څرګندوني


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئولیت املایی و انشایی نوشته ها به دوش خود نویسنده میباشد، خواهشمندیم مطلب خود را بعد از غور کامل بما ارسال بدارید.

پېل دي، مخکې له دې چې ښاغلي حامد کرزي ددوهم ځل ټولټاکونو ته ځان نوماوه ووېلې و (چې ډېر کارونه مې وکړل اوډېر کارونه پاتې دي چې تر سره يې کړم نو ځکه غواړم چې جمهورۍ رياست ته ځان کانديد کړم ).

په هغه وخت کې هم افغانان پوهېدل چې د کرزي ددې خبرو نه مرام څه دې دادې اوس ثابېتېږي چې کرزي د واکمنۍ په دوهمه دوره کې کوم کارونه غوښتل چې تر سره کړي ، کرزي غوښتل چې د افغنستان په هکله د امرېکا د جمهور رېس بارك اوبا ما نوې ستراتېژې پلې کړي،داچې ولسمشر حامد کرزي کله کله په بهرنېانو نېوکې کوې داېوه سياسي غولونه ده په حقيقت کې د کرزي او سپېنې ماڼې سياسي دريځ يو دې ، د لندن کنفرانس ددې خبرې ښه ثبوت دې ، کله چې د برتانيې په پلازمېنه لندن کې د برتانيې د جمهور رېس گوردن براون په نوښت د افغانستان په هکله نړيوال کنفرانس په ۲۸ د جنوري جوړ شو په دې کنفرانس کې په ډاگه شوه چې نړيواله ټولنه اوږه په اوږه د کرزي سره ولاړه وه ، په دې کانفرانس کې د امرېکا د بهرنېو چارو وزېرې ووېل (تر هغو چې افغان ملي اردو او پوليس په پښو نه وې درېدلې امرېکا به وسلوال ځواکونه له افغانستانه ونه باسي) ، بانکې مون ووېل ،( افغنستان د اوږد مهال کړکېچ سره مخامخ دې ددې بحران څخه د وتلو زېمه وارې د نړيوالو په غاړه ده) او د افغان ولسمشر حامد کرزي ووېل د (طالبانو ډېر جنگيالي بېکاره افغاني ځوانان دي چې د پېسو په خاطر د هغوې سره ودرېدلې دي).

د کرزي ددې خبرو په تايد د کاناډا په مونټريال اېالات کې هېلېرې کلنټن ووېل( امرېکا د کرزي د پلان څخه په کلکه ملاتړ کوي) او د تل په شان يې طالبان په دوو ډلو ووېشل او زياته يې کړه (هغه طالبان چې د پېسو په بدل کې ملکي ژوند ته راستنېږي امرېکا په دې اړه تشوېش نه لرې، د طالب قوماندانانو په اړه يې ووېل په دې هکله د پرمختگ توقوع له وخته د مخه کار دې) د کرزي او هېلارې کلېنټن د څرگندونو نه وروسته د امرېکا د جنوبي کارالېنا مشهورې ورځپاڼې(سن) ته يو افسر په مرکه کې ووېل چې (مونږ به د افغانستان د هلمند ولسوالې د مارجې په سېمه کې د يو بالغ او ماشوم په وژلو د هغې کورنې ته د ۱۵۰۰ نه تر ۲۵۰۰ ډالر ورکړو او که پېښې او لاسونه يې غوڅ کړو ورته به ۵۰۰ نه تر ۱۵۰۰ ډالر ورکو او که څوك راته د طالبانو کوردېنات راکړې ډېر ډالر به ورکړو) له دې نه برېښي چې مخکې له مخکې د پښتنو د سرنوشت په هکله امرېکا او افغانستان موافقې ته رسېدلي دې دوې فکر کوي چې ځېنې پښتانه به په پېسو راونېسي او هغه چې په پېسو نه شي رانېولا هغه به د القاعدې او طالب په نوم له بېنه وېسي او د پښتنو په ساحه کې به پخې نظامې هډې جوړې کړې ، دا کار په دې خاطر کوې چې دوې د پښتنو د دېني او ملي جذبې نه وېره لرې او غواړې په هره برخه کې يې داسې وځپوي چې ژوندي وي سر راپورته نه کړي، امرېکا پوهېږي که دا کار ونه کړې نه شي کولاې په دې منطقه کې هغه ستراتېژي چې په پلان کې ده پلي کړي
په اخرکې مونږ افغانان د سپېنې ماڼې واکمنانو ته واېو چې ستاسو د خاص استازې رېچرد هالبروک څرگندونې نېغ په نېغه د افغانستان په کورنۍ چارو کې لاس وهل دي، چې په ننني حساسو شېبو کې داسې څرگندونې نه يواځې چې د بشري حقونو او دمکراسي په لمن تور داغ لگوې بلکې په هېواد کې د مېشتو قامونوتر منځ د بې اتفاقي او جنگ اور ته ببوزې وهي ، مونږ په دې نظر يو چې رېچرد هالبروک يا رواني بېماري لري او که رواني بېماري ونه لري بيا نو په څرگند ډول د پښتنو د قام سره کرکه اوکېنه لرې چې په دواړو حالاتو کې دداسې شخص له پاره په داسې حساسه چوکۍ دنده سرته رسول بد عواقب را منځ ته کوي ، مونږ د سپېنۍ ماڼې او د ارگ واکدارانو نه هېله لروچې د افغانستان له پاره د امرېکا ځانگړې استازې د دندې نه لرې اود افغان ولس څخه ښښنه وغواړي ، که سپېنه ماڼۍ دداسې ناولي سياست مخه ونه نېسي بيا به ترې وخت تېر وي او لاسونه به مږي.

د مسکو نه بازمحمد ( ساپي)


افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de